د مالیې وزارت

د اطلاعاتو او عامه پوهاوي ریاست

مطبوعاتي اعلامیه

د لوړرتبه پلاوي ناستي(SOM) د پایلو او پریکړو په اړه مطبوعاتي کنفرانس دایر شو

د سنبلې ۱۶ مه ۱۳۹۴:

د مالیې وزیر ښاغلي اکلیل حکیمي او د افغانستان له پاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ښاغلي نیکولاس هیسم ، د افغانستان د مختلفو سکتوري برخو وزیرانو او د رسنیو په حضور کې د مشرتابه پلاوي پایلې او پریکړې په یو مطبوعاتي کنفرانس کې له رسنیو سره شریکې کړې .

د مالیې وزیر د مشرتابه پلاوي د ناستې په اړه وویل چې په دغه ناسته کې د ۴۱ هیوادونو او ۱۱ نړیوالو سازمانونو استازو ګډون کړی وو او په افغانستان کې یې د بنې حکومتوالی، اداري فساد سره په مبارزې، بشري حقونو د ساتنې، د خصوصي سکتور له پاره د ښه چاپیریال په رامنځ ته کیدو او د پانګونې د جلب کیدو په شان په مختلفو برخو باندې خبرې وشوې. د مالیې وزیر زیاته کړه چې یاده ناسته کامیابه وه او افغان دولت وکولی شو چې د پورته مواردو په برخه کې د نړیوالو قناعت ترلاسه کړي. حکیمي زیاته کړه چې په دغه ناسته کې د مدني ټولنو نظریات هم واوریدل شواو د لندن کنفرانس دوه اړخیزې ژمنې په غور سره وارزول شوې.
د مالیې وزیر د افغان دولت د ژمنو یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې افغان دولت د کابینې د تکمیل، د تدارکاتو مرکزي کیدو، د لوړ رتبه مامورین د شتمنیو د ثبت، د ټاکنیزو اصلاحاتو، د بانکي اصلاحاتو او د بڼځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د مخنیوي په برخو کې ژمنې کړې چې خوشبختانه زیاتره یې عملي شوي دي.
د مالیې وزیر وویل چې نړیوالي مرستې به ۵۰ سلنه د افغانستان د ملي بودجې له لارې او د پاتې مرستو ۸۰ سلنه به د افغان دولت سره په همغږۍ د افغانستان په لومړیتوبونو لګول کیږي.

د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي ښاغلي هایسم وویل چې مونږ په دغه کنفرانس کې د افغانستان د خلکو پر ستونزو باندې غور کړی دی ترڅو نړیواله ټولنه په هغو برخو کې مرستې وکړي چې د افغانانو په ژوند کې مثبت بدلون راولي. ده وویل چې په دغه کنفرانس کې د دواړو لوړیو ژمنې واخیستل شوې او د اوسني دولت ستونزې هم تر بحث لاندې ونیول شوې. افغان دولت نړیوالې ټولنې ته خپل تطبیقي پلان وړاندې کړ او خپلې ستونزې یې په کې مشخصې کړې ترڅو نړیوالي خپلې مرستې د افغان دولت له لومړیتوبونو سره سمې عیارې کړي.
د یادونې وړ ده چې په دغه خبرې ناسته کې د کانونو، کرنې، سوداګرۍ، اقتصاد، اوبو انرژۍ، د کلیو د پراختیا، کار امور اجتماعي وزیرانو، د افغانستان بانک رئیس، د تدارکاتو د کمیټې مسوول او د سیمه ئیزو ارګانو مرستیال ګډون کړی وو.

تمه ده چې په راتلونکي کې دوه نور کنفرانسونه به هم ونیول شي چې له افغانستان سره به په ملکي او نظامي برخو کې مرستې وشي.

یادونه: د افغان دولت او نړیوالې ټولنې ترمنځ د دوه اړخیزه ژمنو په اړه معلومات له ضمیمې څخه ترلاسه کولی شی.

د اطلاعاتو او عامه پوهاوي ریاست
اجمل حمید عبدالرحیمزی د مالیې وزارت ویاند او د اطلاتو او عامه پوهاوي ریاست ټس‌رپ‌رس
د اړیکو شمیرې: 0729994111 0202103620
بریښنالیک:mediaoffice.mof@gmail.com ویب پاڼه:www.mof.gov.af فیسبوک: وزارت مالیه/www.facebook.com